# الزمر

**مکی سورة دی ٧٥ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ١

**دا کتاب( مبارک قرآن) د برلاسی او حکیم ذات، الله تعالی له لوری، نازل شوی( هغه مقتدر ذات چې ټول اقدامات یې په حکمت او مصلحت ولاړ دی او هیڅوک یې د احکامو د تطبیق او انفاذ مخه نشی نیولی).**

إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ فَٱعۡبُدِ ٱللَّهَ مُخۡلِصٗا لَّهُ
ٱلدِّينَ ٢

**(ای پیغمبره!) مونږ دا کتاب تا ته په حقه نازل کړی نو(حسب المعمول) په دومره غوره او بهتره طریقه د الله تعالی عبادت کوه چې( ایمان او عقیده دې له شرک او ریا څخه کاملاً پاکه او سپیڅلې) او یوازې د الله تعالی لپاره ځانګړې او مخلصانه وی.**

أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلۡخَالِصُۚ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ مَا
نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ فِي مَا هُمۡ
فِيهِ يَخۡتَلِفُونَۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ كَٰذِبٞ كَفَّارٞ ٣

**خبردار اوسئ چې خالص او سپیڅلی دین( او عبادت) یوازې د الله تعالی لپاره ځانګړی دی، او هغه کسان (مشرکین) چې د هغه په مقابل کې یې نور باطل ولیان او سرپرستان غوره کړی، وایی مونږ ځکه د هغوی عبادت کوو چې د الله تعالی حضور ته مو د تقرب وسیله شی. بې له شکه چې الله تعالی به د دوی( او مؤمنانو) ترمنځ د اختلافی نظریاتو( توحید او شرک) په باب عادلانه فیصله وکړی، او الله تعالی هیڅکله هم دروغجن او ناشکره( انسان) د هدایت په لاره نه برابروی.**

لَّوْ أَرَادَ ٱللَّهُ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا لَّٱصْطَفَىٰ مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ

سُبْحَٰنَهُۥ ۖ هُوَ ٱللَّهُ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّارُ ﴿٤﴾

**که( فرضاً) الله تعالی څوک په ځوی والی نیولی، نو له خپلو مخلوقاتو څخه به یې چې څوک خوښ وی، غوره کړی وی( نه دا چې تاسو به یې ورته د انتخاب حق ولری) او پاک او مبری دی د الله تعالی واحد او غالب ذات( د ځوی والی له انتساب څخه).**

خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ ۖ يُكَوِّرُ ٱلَّيْلَ عَلَى ٱلنَّهَارِ وَيُكَوِّرُ

ٱلنَّهَارَ عَلَى ٱلَّيْلِ ۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَجْرِى

لِأَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ أَلَا هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْغَفَّٰرُ ﴿٥﴾

**( هغه ذات چې)آسمانونه او ځمکه یې په حقه ایجاد او جوړ کړل، شپه په ورځ او ورځ په شپه پوښوی، او لمر او سپوږمۍ یې( د خپلو بندګانو لپاره) تابع او مسخر کړی، چې هر یو تر ټاکلی وخته( قیامت) په حرکت کې دی. خبردار اوسئ چې الله تعالی( په ټولو چارو) برلاسی او ډیر زیات مهربان او ښونکی ذات دی.**

خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ

ٱلْأَنْعَٰمِ ثَمَٰنِيَةَ أَزْوَٰجٍ ۚ يَخْلُقُكُمْ فِى بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ خَلْقًا مِّنۢ بَعْدِ

خَلْقٍ فِى ظُلُمَٰتٍ ثَلَٰثٍ ۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ ٱلْمُلْكُ ۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ

فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ ﴿٦﴾

**( الله تعالی هغه ذات دی چې) تاسو یې له یوه نفس نه پیدا کړئ( او د دغه نفس د پیدایښت نه وروسته یې) د هغه ښځه، د هماغه (له جنس نه) پیدا کړه .او له څارویو( اوښ، غوا، پسه او وزې نه یې د یوه نر او ښځې په حساب) اته جوړې پیدا کړې، او تاسو یې د میندو په ارحامو کې له درې ګونو تیارو( نس، رحم او مشیمې) څخه په تدریجی ډول وزیږولئ( یعنې له نطفې**

**څخه په علقه او له علقې څخه په مضغه بدل شوی، بیا مو ستاسو هډوکی جوړ او د هډوکو له پاسه مو غوښه ورشنه کړه او د یوه مکمل انسان له جوړیدو وروسته مو درته الهی روح دروباښه، فسبحان الله احسن الخالقین). دا دی ستاسو رب الله تعالی چې( د هستی د ټول جهان) ټولواکی ورته ځانګړې ده. له هغه نه غیر، بل خدای نشته، نو څنګه د حق له منلو غاړه غړوی؟**

إِن تَكۡفُرُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنكُمۡۖ وَلَا يَرۡضَىٰ لِعِبَادِهِ ٱلۡكُفۡرَۖ وَإِن
تَشۡكُرُواْ يَرۡضَهُ لَكُمۡۗ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۗ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم
مَّرۡجِعُكُمۡ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ
ٱلصُّدُورِ ٧

**که تاسو( ټول له یوې مخې) کافران شئ( الله تعالی ته هیڅ زیان نه رسی ځکه) هغه ستاسو نه بې نیازه دی، او د خپلو بندګانو لپاره کفر هم نه خوښوی( او نه چاته د کفر کولو امر کوی) او ستاسو لپاره دا غوره ګڼی چې( د ایمان، عبادت او نیکو اعمالو په سرته رسولو یې) شکر په ځای کړئ. او ( د ګناه) هیڅ بار وړونکی د بل چا (د ګناه) بار نشی اوچتولی. بیا تاسو ټول د الله تعالی حضور ته ورګرځئ چې ستاسو د اعمالو نتایج به درته اعلان کړی، ځکه هغه د هر چا د زړه په پټو اسرارو ډیر ښه خبر دی.**

۞ وَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ضُرّٞ دَعَا رَبَّهُۥ مُنِيبًا إِلَيۡهِ ثُمَّ إِذَا خَوَّلَهُۥ نِعۡمَةٗ
مِّنۡهُ نَسِيَ مَا كَانَ يَدۡعُوٓاْ إِلَيۡهِ مِن قَبۡلُ وَجَعَلَ لِلَّهِ أَندَادٗا لِّيُضِلَّ عَن
سَبِيلِهِۦۚ قُلۡ تَمَتَّعۡ بِكُفۡرِكَ قَلِيلًاۖ إِنَّكَ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِ ٨

**او کله چې انسان ته کوم غم او مصیبت ورسی( او د مرستې ټولې دروازې پخپل مخ تړلې ووینی، نو بیا خپل رب وریاد شی)او دعا ګانې ورته کوی،خو چې الله تعالی وربانډې خپل نعمت ولوروی( او دی د آرام او اطمینان سا واخلی) نو ټول هغه مصیبتونه یې هیر شی چې د له منځه تللو لپاره یې دعاګانې کولې، او بیا لا د الله تعالی لپاره شریکان هم غوره کوی(پخپله هم د شرک او کفر په کندو سر شی او) لا نور خلک هم د الله تعالی له حقې لارې( اسلام نه) بې لارې**

کوی.( ای پیغمبره!دغه ډول کسانو ته) ووایه چې څه لنډه موده پخپل کفر کې په مزو چرچو تیره کړئ خو بالاخره به د دوزخ هستوګن یاست.

أَمَّنْ هُوَ قَٰنِتٌ ءَانَآءَ ٱلَّيْلِ سَاجِدًا وَقَآئِمًا يَحْذَرُ ٱلْءَاخِرَةَ وَيَرْجُوا۟ رَحْمَةَ
رَبِّهِۦ ۗ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُو۟لُوا۟
ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٩﴾

( آیا دغه ډول ناشکره کافر انسان ښه دی) او که هغه امر منونکی( مؤمن مسلمان) چې شپه په سجده او قیام او مخلصانه عبادت تیروی، د آخرت له عذابه ویریږی او د خپل رب رحمت او مهربانۍ ته یې د امید سترګې نیولې دی؟ آیا د پوهې او معرفت خاوندان له ناپوهانو او جاهلانو سره یو شان دی؟(هیڅکله نه.) یوازې د عقل او پوهې خاوندان دی چې پند او نصیحت اوری.

قُلْ يَٰعِبَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمْ ۚ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا۟ فِى هَٰذِهِ ٱلدُّنْيَا
حَسَنَةٌ ۗ وَأَرْضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةٌ ۗ إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّٰبِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿١٠﴾

( ای پیغمبره! د الله تعالی) مؤمنو بندګانو ته ووایه چې د خپل رب له عذابه وویریږی. هغه کسان چې په دې دنیا کې نیک عملونه کوی، نیک اجر او بدله به ورکړی شی، او( که د ځمکې په یوه برخه کې له تکلیف او ستونزو سره مخامخ شئ نو) د الله تعالی ځمکه پراخه ده( بلې برخې ته پناه یوسئ او د خپل کور کلی څخه د هجرت په ترڅ کې ستونزې او کړاوونه هم په صبر او سره سینه وزغمئ) ځکه صبر کوونکو ته به بې حسابه اجر او ثواب ور په برخه شی.

قُلْ إِنِّىٓ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ ٱللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ ٱلدِّينَ ﴿١١﴾

( ای پیغمبره!) ووایه زه په دې مؤظف یم چې په مخلصانه توګه د الله تعالی عبادت وکړم( او ایمان او عبادت مې له هر ډول شرک او ریا نه پاک وی).

وَأُمِرْتُ لِأَنْ أَكُونَ أَوَّلَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿١٢﴾

او په دې هم مؤظف یم چې باید د الله تعالی( احکامو او فرامینو ته) تر ټولو لومړنی تابعدار او ایمان راوړونکی واوسم.

قُلۡ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّي عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ١٣

ووایه که د خپل رب نافرمانی وکړم، ویریږم چې د لویی ورځې په عذاب به اخته شم.

قُلِ ٱللَّهَ أَعۡبُدُ مُخۡلِصٗا لَّهُۥ دِينِي ١٤

ووایه: زه په داسې حال کې د الله تعالی بندګی کوم چې( ایمان او عبادت مې له هر ډول شرک او ریا نه) پاک دی.

فَٱعۡبُدُواْ مَا شِئۡتُم مِّن دُونِهِۦۗ قُلۡ إِنَّ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ
وَأَهۡلِيهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ أَلَا ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡخُسۡرَانُ ٱلۡمُبِينُ ١٥

او ( تاسو اختیار لرئ) څه چې مو خوښه وی د الله تعالی په ځای ورته د عبادت سرونه ټیټ کړئ( خو باید وپوهیږئ چې له ډیر بد انجام سره به مخامخ شئ). (ای پیغمبره ورته) ووایه: واقعی زیانیدلی هغه کسان دی چې هم یې خپله او هم یې د خپل اهل وعیال اخروی سرمایه تباه کړې ده. پوه شئ چې دا ښکاره زیان او تاوان دی.

لَهُم مِّن فَوۡقِهِمۡ ظُلَلٞ مِّنَ ٱلنَّارِ وَمِن تَحۡتِهِمۡ ظُلَلٞۚ ذَٰلِكَ يُخَوِّفُ ٱللَّهُ بِهِۦ
عِبَادَهُۥۚ يَٰعِبَادِ فَٱتَّقُونِ ١٦

دوی به له پورته او کښته( له هرې خوا) د اور په پردو کې رانغښتي وی. دا هغه عذاب دی چې الله تعالی ترې خپل بندګان ویروی، نو ای زما بندګانو زما له عذابه وویریږئ.

وَٱلَّذِينَ ٱجۡتَنَبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ أَن يَعۡبُدُوهَا وَأَنَابُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ لَهُمُ ٱلۡبُشۡرَىٰۚ فَبَشِّرۡ
عِبَادِ ١٧

او زیری هغو کسانو ته دی چې د طاغوت(بتانو، د کفر د سردارانو او سرکشو شیطانانو)له بندګی څخه ځانونه لیرې ساتی،او الله تعالی ته رجوع کوی، نو زما دغو بندګانو ته ډیر ښه زیری ورکړه.

ٱلَّذِينَ يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقَوۡلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحۡسَنَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَىٰهُمُ

ٱللَّهُۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ١٨

هغوی چې خبره اوری او د تر ټولو ښې او غوره خبرې پیروی کوی، په حقیقت کې د الله تعالی له هدایت نه برخمن او د پوهې او علم خاوندان دی.

أَفَمَنۡ حَقَّ عَلَيۡهِ كَلِمَةُ ٱلۡعَذَابِ أَفَأَنتَ تُنقِذُ مَن فِي ٱلنَّارِ ١٩

آیا هغه چې د عذاب فیصله یې صادره شوی( له عذابه د تیښتې لار لری؟) آیا څوک چې په اور کې دی، ته یې ژغورلی شی؟

لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ لَهُمۡ غُرَفٞ مِّن فَوۡقِهَا غُرَفٞ مَّبۡنِيَّةٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا

ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَعۡدَ ٱللَّهِۖ لَا يُخۡلِفُ ٱللَّهُ ٱلۡمِيعَادَ ٢٠

خو هغه کسان چې د خپل رب( له عذابه ) ویرېږی، دوه پوړیزه مانۍ ورته( په جنت کې) ساتل شوی چې تر لاندې یې( د الهی) نعمتونو ویالې روانې دی. دا د الله تعالی وعده ده او الله تعالی هیڅکله خپله وعده نه ماتوی.

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَسَلَكَهُۥ يَنَٰبِيعَ فِي ٱلۡأَرۡضِ ثُمَّ

يُخۡرِجُ بِهِۦ زَرۡعٗا مُّخۡتَلِفًا أَلۡوَٰنُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ مُصۡفَرّٗا ثُمَّ يَجۡعَلُهُۥ

حُطَٰمًاۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكۡرَىٰ لِأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٢١

آیا نه پوهېږې چې الله تعالی له آسمانه اوبه را نازلوی او د چینو په شکل یې په ځمکه کې زیرمه کوی او بیا د هغو په وسیله د ډول ډول نباتاتو کښتونه راشنه کوی، بیا دغه شنه نباتات زیر او مړاوی شی او بیا مات مات او ورژیږی. بې له شکه چې په دغو تغیراتو کې د عقل او پوهې د خاوندانو لپاره د تنبیه او عبرت درس پروت دی.

أَفَمَن شَرَحَ ٱللَّهُ صَدۡرَهُۥ لِلۡإِسۡلَٰمِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٖ مِّن رَّبِّهِۦۚ فَوَيۡلٞ
لِّلۡقَٰسِيَةِ قُلُوبُهُم مِّن ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ﴿٢٢﴾

آیا هغه څوک چې الله تعالی یې سینه د اسلام(د شرفیابۍ) لپاره پرانستې، او د خپل رب په نور، روښانه ده( د هغه چا په شان دی چې سینه یې د اسلام د نوم په اوریدو تنګیږي) نو تباهي ده د هغه چا لپاره چې زړه یې د الله تعالی د ذکر لپاره سخت شي او همدغه کسان په څرګنده ګمراهۍ کې روان دي.

ٱللَّهُ نَزَّلَ أَحۡسَنَ ٱلۡحَدِيثِ كِتَٰبٗا مُّتَشَٰبِهٗا مَّثَانِيَ تَقۡشَعِرُّ مِنۡهُ جُلُودُ
ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمۡ وَقُلُوبُهُمۡ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ
ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهۡدِي بِهِۦ مَن يَشَآءُۚ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ
مِنۡ هَادٍ ﴿٢٣﴾

الله تعالی تر ټولو نیکه خبره( قرآن) نازل کړې( چې آیتونه یې په نظم، فصاحت او بلاغت او خوږوالي کې) له یو بل سره مشابه( او له پند او نصیحت نه په ډکو داستانونو او د امر او نهې په احکامو) مشتمل دی، او په اوریدو یې له خپل رب نه د ویریدونکو کسانو د بدن پوستکي ریږدي، او د خوف او رعب داسې حال وربانديې راشي چې قلباً او جسماً د الله تعالی د یاد لپاره نرم (او له روحاني سکون او اطمینان نه ډک شي). دا( قرآن) د الله تعالی هدایت دی او هر چاته چې وغواړي( د همدې کتاب په وسیله) ورته د هدایت او نیکمرغۍ دروازې پرانیزي، او څوک چې( د کفر او عناد په جرم) په ګمراهۍ محکوم شي، هیڅوک یې سمې لارې ته راوستلی نشي.

أَفَمَن يَتَّقِي بِوَجۡهِهِۦ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ وَقِيلَ لِلظَّٰلِمِينَ
ذُوقُواْ مَا كُنتُمۡ تَكۡسِبُونَ ﴿٢٤﴾

آیا هغه څوک چې د قیامت په ورځ به یې( لاسونه تړلي او)مخ به یې د عذاب په سختو څپیړو وهل کیږي( د هغه چا په شان دی چې له عذابه په امن دی؟) ظالمانو ته به وویل شي: وڅکئ اوس د خپلو کړو جرمونو( د سزا) خوند.

كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ فَأَتَىٰهُمُ ٱلۡعَذَابُ مِنۡ حَيۡثُ لَا
يَشۡعُرُونَ ﴿٢٥﴾

(له دې اوسنيو کافرانو او مشرکانو) نه وړاندې پخوانيو کافرانو هم( الهی آيتونه) دروغ ګڼلی
وو، خو له داسې خوا ورباندې عذاب نازل شو چې دوی يې تصور هم نه کاوه.

فَأَذَاقَهُمُ ٱللَّهُ ٱلۡخِزۡيَ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ لَوۡ كَانُواْ
يَعۡلَمُونَ ﴿٢٦﴾

نو الله تعالی په دنيا کې خوار او سپک کړل، او که وپوهيږی نو د آخرت عذاب يې لا نور هم ډير
لوی دی.

وَلَقَدۡ ضَرَبۡنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٖ لَّعَلَّهُمۡ
يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٧﴾

او مونږ په دې قرآن کې خلکو ته ډول ډول مثالونه او له عبرت نه ډک داستانونه بيان کړل چې
کيدی شی پند واخلی.

قُرۡءَانًا عَرَبِيًّا غَيۡرَ ذِي عِوَجٖ لَّعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ ﴿٢٨﴾

هغه( فصيح او روښانه) عربی قرآن چې هيڅ انحراف او کوږوالی پکې نشته، ترڅو يې د
تعليماتو او لارښوونو په رڼا کې( له شرک، کفر او فساد نه) ځانونه وساتی.

ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا رَّجُلٗا فِيهِ شُرَكَآءُ مُتَشَٰكِسُونَ وَرَجُلٗا سَلَمٗا لِّرَجُلٍ
هَلۡ يَسۡتَوِيَانِ مَثَلًاۚ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٢٩﴾

الله تعالی( د توحيد او شرک د تفکيک د لا روښانه کولو لپاره) د هغو دوو کسانو مثال وړاندې
کوی چې يو يې د ځو تنو بد خويه او بد اخلاقه مالکينو غلام او بنده دی، او بل يې يوازې د
خپل يوه مالک غلام دی. آيا د دغو دواړو غلامانو حال يو شان دی؟( موحدان چې د واحد خدای

**بندګان دی په دنیا کې د پاک او  منظم ژوند لرونکی او اخروی نیکمرغی ته هیله من دی، او مشرکان چې د بیلابیلو مالکانو بندګی کوی، له غمونو او پریشانیو سره مخامخ او بد مرغه آخرت یې هم په وړاندې پروت دی) ټولې ستاینې الله پاک ته ځانګړی دی، بلکه په دوی کې زیاتره کسان( د الله تعالی د عبادت او بندګی له دنیوی او اخروی ګټو او لذت نه) خبر نه دی.**

إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ﴿٣٠﴾

**( ای پیغمبره!)بې له شکه ته هم مرګ لرې او دوی هم مری.**

ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِندَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ ﴿٣١﴾

**بیا به د قیامت په ورځ د خپل رب په حضور کې( د دین او عقیدې د حقانیت په باب) بحث او مناقشه وکړی( او حجتونه او دلایل به وړاندې کړی).**

۞ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَذَبَ عَلَى اللَّهِ وَكَذَّبَ بِالصِّدْقِ إِذْ

جَاءَهُ ۚ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكَافِرِينَ ﴿٣٢﴾

**نو له هغه نه لوی ظالم بل څوک دی ( بلکه نشته) چې په الله تعالی پورې د دروغو تومت تړی( شریکان ورته پیدا کوی او اولاد ورته منسوبوی) او هغه حق پیغام( قرآن) چې ورته رسیدلې هم تکذیبوی . آیا د کافرانو لپاره دوزخ مناسب ځای نه دی؟( بیشکه چې دی).**

وَالَّذِي جَاءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِ ۙ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴿٣٣﴾

**او هغه( پیغمبر) چې حق پیغام( قرآن) یې راوړی، او هغه( مؤمنان) چې هغه یې( په صدق او اخلاص سره) منلی، واقعاً چې پرهیزګاران دی.**

لَهُم مَّا يَشَاءُونَ عِندَ رَبِّهِمْ ۚ ذَٰلِكَ جَزَاءُ الْمُحْسِنِينَ ﴿٣٤﴾

**څه چې دوی وغواړی د خپل رب له خوا یې ورته ورکړی کیږی او همدا دی د نیکانو او محسنانو اجر( او ځانګړی امتیاز او کرامت).**

لِيُكَفِّرَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ أَسۡوَأَ ٱلَّذِي عَمِلُواْ وَيَجۡزِيَهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ
ٱلَّذِي كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٣٥

دا د دې لپاره چې الله تعالی( پخپل رحمت سره) هغه ناوړه اعمال چې له دوی نه( سهواً) صادر شوی، محو کړی او د هغوی د نیکو اعمالو په تناسب ورته اجر او ثواب ورکړی.

أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِكَافٍ عَبۡدَهُۥۖ وَيُخَوِّفُونَكَ بِٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦۚ
وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنۡ هَادٖ ٣٦

آیا الله تعالی د خپل بنده لپاره( په ټولو چارو کې) کافی نه دی؟ او( ای پیغمبره! دا کافران او مشرکان) له خپلو( بتانو) او باطلو خدایانو څخه تا ویروی( خو د الله تعالی برحق پیغمبر او مؤمنان هیڅکله هم د باطلو او ناتوانو بتانو څخه نه ویریږی). او هغه کسان چې د الله تعالی په فرمان ( د کفر او عناد په جرم) گمراه شوی، هیڅوک یې د هدایت لارې ته سمولی نشی.

وَمَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّضِلٍّۗ أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِعَزِيزٖ ذِي ٱنتِقَامٖ ٣٧

او چاته چې الله تعالی هدایت وکړی، هیڅوک یې بې لارې کولی نشی،آیا الله تعالی برلاسی او انتقام اخستونکی ذات نه دی؟( بیشکه چې دی).

وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلۡ
أَفَرَءَيۡتُم مَّا تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ إِنۡ أَرَادَنِيَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ هَلۡ هُنَّ
كَٰشِفَٰتُ ضُرِّهِۦٓ أَوۡ أَرَادَنِي بِرَحۡمَةٍ هَلۡ هُنَّ مُمۡسِكَٰتُ
رَحۡمَتِهِۦۚ قُلۡ حَسۡبِيَ ٱللَّهُۖ عَلَيۡهِ يَتَوَكَّلُ ٱلۡمُتَوَكِّلُونَ ٣٨

او که له( مشرکانو) نه پوښتنه وکړې چې آسمانونه او ځمکه چا پیدا کړی؟ بې له ځنډه به درته ووایی چې الله تعالی( پیدا کړی دی).( ای پیغمبره! ) ووایه: آیا نه گوری چې که الله تعالی ماته د کوم ضرر د رارسیدو اراده وکړی، نو ستاسو باطل معبودان یې له مانه لیرې کولی شی؟ او که

( الله تعالی) راته د کوم رحمت د لوررولو اراده وکړی، نو دوی یې د رحمت مخه نیولی شی؟ ووایه الله تعالی زما( د ټولو چارو لپاره) کافی دی او توکل کوونکی باید هرومرو په الله تعالی توکل وکړی.

قُلْ يَٰقَوْمِ ٱعْمَلُوا۟ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّى عَٰمِلٌ ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾

( ای پیغمبره!) ووایه: ای زما قومه تاسو( اختیار لرئ چې) پخپل همدې اوسنی کفری او دښمنانه دریځ ټینګ ودرېږئ، او زه به هم( د خپل ایمان او اخلاص په بنسټ) پخپله لار روان یم، ډیر زر به وپوهیږئ:

مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٤٠﴾

چې څوک (په دنیا کې) په سپکوونکی عذاب اخته کیږی او( په آخرت کې هم) ورته تلپاتې او ابدی عذاب لیکل شوی دی؟

إِنَّآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ لِلنَّاسِ بِٱلْحَقِّ ۖ فَمَنِ ٱهْتَدَىٰ فَلِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ ﴿٤١﴾

مونږ دا کتاب د خلکو (د هدایت لپاره) په حقه تاته نازل کړی، نو څوک چې هدایت واخلی، ګټه یې خپله ده، او څوک چې بې لارې شی زیان یې خپل دی، او ته د دوی څارونکی او ذمه وار نه یې(او په زور او جبر یې سمې لارې ته راګرځول هم ستا کار نه دی) .

ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلْأَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا وَٱلَّتِى لَمْ تَمُتْ فِى مَنَامِهَا ۖ فَيُمْسِكُ ٱلَّتِى قَضَىٰ عَلَيْهَا ٱلْمَوْتَ وَيُرْسِلُ ٱلْأُخْرَىٰٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٢﴾

الله تعالی هغه ذات دی چې له خلکو څخه د مرګ په وخت کې روح قبضوی، او څوک چې مړ نه وی د خوب په وخت کې ترې روح اخلی، نو د چا چې د مرګ حکم شوی وی سا یې ترې ساتی( او بدن ته یې نه ستنوی) او هغه بل ته تر ټاکلی وخته بیرته روح ستنوی، بیشکه چې( د روح په دغه امساک او ارسال کې) د فکر کوونکو او عبرت اخستونکو خلکو لپاره( د الله تعالی د قدرت) نښې پرتې دی.

أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ شُفَعَآءَۚ قُلۡ أَوَلَوۡ كَانُواْ لَا يَمۡلِكُونَ شَيۡـٔٗا وَلَا يَعۡقِلُونَ ﴿٤٣﴾

( ناپوهان او جاهلان نه یوازې دا چې د الله تعالی د کامل قدرت په باب فکر نه کوی) بلکه د الله تعالی په مقابل کې یې( بتان) هم د خپلو شفاعت کوونکو پحیث غوره کړی دی. ( ای پیغمبره!) ورته ووایه( آیا تاسو له هغوی نه شفاعت غواړئ په داسې حال کې چې ) له هغوی سره، نه د کوم کار او شفاعت اختیار شته او نه ورسره علم او عقل شته( چې خپل پرستش کوونکی او عبادت کوونکی وپیژنی).

قُل لِّلَّهِ ٱلشَّفَٰعَةُ جَمِيعٗاۖ لَّهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿٤٤﴾

( ای پیغمبره!) ورته ووایه چې د شفاعت اختیار او صلاحیت په کامله توګه الله تعالی ته ځانګړی دی، د آسمانونو او ځمکې پاچاهی د هغه په واک کې ده، او تاسو( د ژوند په پای کې) یوازې د هغه حضور ته ورګرځئ.

وَإِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَحۡدَهُ ٱشۡمَأَزَّتۡ قُلُوبُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِۖ وَإِذَا ذُكِرَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦٓ إِذَا هُمۡ يَسۡتَبۡشِرُونَ ﴿٤٥﴾

او( د مشرکانو یو خاصیت دا دی) کله چې د الله تعالی د وحدانیت ذکر کیږی نو د دوی زړونه له نفرت نه ډک شی،او کله چې یې د(خودساخته) خدایانو او بتانو تعریف وشی نو بیا له خوښی نه من من غوښه اخلی.

قُلِ ٱللَّهُمَّ فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ عَٰلِمَ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ أَنتَ
تَحۡكُمُ بَيۡنَ عِبَادِكَ فِي مَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ٤٦

**( ای پیغمبره که د دوی له ایمان راوړلو، نا امیده شوې نو) ووایه: ای د آسمانونو او ځمکې خالقه! ای په پټو اسرارو او ښکاره اعمالو او خبرو عالم ذاته! ته پخپله د خپلو بندګانو ترمنځ د اختلافی( عقایدو او عباداتو) په باب فیصله وکړه.**

وَلَوۡ أَنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ مَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا وَمِثۡلَهُۥ مَعَهُۥ لَٱفۡتَدَوۡاْ
بِهِۦ مِن سُوٓءِ ٱلۡعَذَابِ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ وَبَدَا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مَا لَمۡ يَكُونُواْ
يَحۡتَسِبُونَ ٤٧

**او که له هغو کسانو سره( چې د الهی آیتونو په مقابل کې) ظالمانه دریځ غوره کوی، د ځمکې د شتمنیو دوه چنده سرمایه په لاس کې وی، بې له شکه به یې د قیامت په ورځ، له عذاب نه د ځان ژغورنې په بدل کې فدیه کړی( خو وبه نه منل شی) او د الله تعالی له لوری به داسې عذابونه ووینې چې د دوی په خیال خاطر کې هم نه ګرځی.**

وَبَدَا لَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُواْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ
يَسۡتَهۡزِءُونَ ٤٨

**او د خپلو کړو ګناهونو ناوړه انجام به پخپلو سترګو ووینی او هغه عذاب به ترې غیږه راچاپیر کړی چې دوی ورباندې ملنډې وهلی.**

فَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ضُرّٞ دَعَانَا ثُمَّ إِذَا خَوَّلۡنَٰهُ نِعۡمَةٗ مِّنَّا قَالَ إِنَّمَآ
أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلۡمِۭۚ بَلۡ هِيَ فِتۡنَةٞ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٤٩

**کله چې انسان ته کوم رنځ او مصیبت ورسی( د لیرې کولو لپاره یې) مونږ ته دعاګانې او فریادونه کوی، خو کله چې ورباندې خپل نعمت ولوروو،( الهی نعمت) د خپلې پوهې کمال ګڼی (**

داسې نه ده چې دوی يې انګيرې) بلکه دغه نعمت ورته يو ازميښت دی( چې وګورو شکريه يې په ځای کوی،که سرکشی اختياروی) خو زياتره کسان( په دغه حقيقت) نه پوهيږی.

قَدۡ قَالَهَا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٥٠﴾

له دوی نه لا پخوا( قارون او) نورو (مجرمينو) هم دغه ډول خبرې کولې، خو بيا يې نه ګټلې شتمنی په کار شوه(او نه يې ټولنيز مقام او حيثيت له عذاب او هلاکت څخه، د نجات وسيله شوه).

فَأَصَابَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُواْۚ وَٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡ هَـٰٓؤُلَآءِ
سَيُصِيبُهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُواْ وَمَا هُم بِمُعۡجِزِينَ ﴿٥١﴾

او د خپلو ناوړو کړنو سزا او عذاب ورته ورسيد، او د دې( مکې) خلک به هم چې زمونږ په آيتونو ظلم کوی د خپلو اعمالو سزا ووينی( او بايد پوه شی چې) دوی مونږ ته ماتې نشی راکولی( او زمونږ د قدرت او ګرفت له ساحې نه وتلی نشی).

أَوَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٥٢﴾

آيا نه پوهيږی چې الله تعالی هر چاته چې وغواړی رزق او روزی ورته پراخوی او (يا) ورباندی تنګسيا راولی. بيشکه چې په دغه (الهی تقسيم) کې د ايمان د خاوندانو لپاره( د الله تعالی د حکمت او مصلحت) ډيرې ښې نښې پرتې دی.

۞ قُلۡ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسۡرَفُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ لَا تَقۡنَطُواْ مِن رَّحۡمَةِ ٱللَّهِۚ
إِنَّ ٱللَّهَ يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًاۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥٣﴾

( ای پيغمبره زما له لوری) زما هغو بندګانو ته چې( د ګناهونو په ارتکاب سره يې) پخپلو ځانونو ظلم کړی،ووايه چې د الله تعالی له رحمته مه نا اميده کيږی، هغه ټول ګناهونه ښښی، بيشکه چې الله تعالی ډير زيات ښښونکی او مهربان ذات دی.

وَأَنِيبُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ وَأَسۡلِمُواْ لَهُۥ مِن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَكُمُ ٱلۡعَذَابُ ثُمَّ
لَا تُنصَرُونَ ﴿٥٤﴾

**او وړاندې له دې چې عذاب درباندې نازل، او د مرستې دروازې درباندې بندې شي، د خپل رب لوری ته راوګرځئ( او احکامو او اوامرو ته یې په اخلاص سره) غاړه کیږدئ.**

وَٱتَّبِعُوٓاْ أَحۡسَنَ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُم مِّن قَبۡلِ أَن
يَأۡتِيَكُمُ ٱلۡعَذَابُ بَغۡتَةٗ وَأَنتُمۡ لَا تَشۡعُرُونَ ﴿٥٥﴾

**او وړاندې له دې چې د بې خبرئ او غفلت په حال کې درباندې عذاب راپریوزی، د خپل رب د هغو غوره احکامو پیروی وکړئ چې تاسو ته نازلیږی.**

أَن تَقُولَ نَفۡسٞ يَٰحَسۡرَتَىٰ عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ فِي جَنۢبِ ٱللَّهِ وَإِن كُنتُ لَمِنَ
ٱلسَّٰخِرِينَ ﴿٥٦﴾

**که نه( د عذاب د نزول په وخت) بیا انسان د پښیمانی لاس موروړی( او وایی) افسوس دی په ما چې د الله تعالی په حق کې مې ناراستی او غفلت کاوه او( په الهی احکامو او آیتونو مې) ملنډې وهلې.**

أَوۡ تَقُولَ لَوۡ أَنَّ ٱللَّهَ هَدَىٰنِي لَكُنتُ مِنَ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٥٧﴾

**او یا ووایی چې که الله تعالی راته لارښوونه کړی وی، زه به هم په نیکانو او متقیانو کې شامل وی.**

أَوۡ تَقُولَ حِينَ تَرَى ٱلۡعَذَابَ لَوۡ أَنَّ لِي كَرَّةٗ فَأَكُونَ مِنَ
ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٥٨﴾

**او چې کله عذاب ووینی، وبه وایی که بیرته می دنیا ته ولیږی،نو( عقیدتاً او عملاً ) به د نیکانو او پرهیزګارانو په کتار کې ودریږم.**

بَلَىٰ قَدۡ جَآءَتۡكَ ءَايَٰتِي فَكَذَّبۡتَ بِهَا وَٱسۡتَكۡبَرۡتَ وَكُنتَ مِنَ
ٱلۡكَٰفِرِينَ ٥٩

**( الله تعالی به وفرمایی) هو- زما آیتونه( د انبیاو په وسیله)  تا ته دررورسیدل، خو دروغ دې وګڼل، او په تکبر سره د کفر او عناد په صف کې ودریدې.**

وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ تَرَى ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ عَلَى ٱللَّهِ وُجُوهُهُم مُّسۡوَدَّةٌۚ
أَلَيۡسَ فِي جَهَنَّمَ مَثۡوٗى لِّلۡمُتَكَبِّرِينَ ٦٠

**او د قیامت په ورځ به هغه کسان تور مخی ووینې چې په الله تعالی يې د دروغو تومت تړلی( او اولاد او ښځه يې ورته منسوب کړی دی). آیا په دوزخ کې د متکبرینو لپاره  د هستوګنې ځای نشته؟( بیشکه چې ځای ورته ډیر زیات دی).**

وَيُنَجِّي ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ بِمَفَازَتِهِمۡ لَا يَمَسُّهُمُ ٱلسُّوٓءُ وَلَا هُمۡ
يَحۡزَنُونَ ٦١

**او الله تعالی به پرهیزګاران( د هغوی د نیکو اعمالو او تقوا  په برکت)په کامیابۍ سره (له عذابه) وژغوری، نه به ورباندې کوم غم وی او نه پریشانی او خفګان.**

ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ٦٢

**الله تعالی د هر شی خالق او مؤجد دی( او له خلقت او ایجاد نه وروسته يې د بقا او تحفظ) ذمه وار او کار ساز هم پخپله دی.**

لَّهُۥ مَقَالِيدُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ
أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ٦٣

**د آسمانونو او ځمکې( د خزانو) کلی ګانې له (الله تعالی) سره دی، او حقیقی زیانیدلی هغه کسان دی چې د الله تعالی آیتونه يې دروغ ګڼلی دی.**

قُلۡ أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ تَأۡمُرُوٓنِّيٓ أَعۡبُدُ أَيُّهَا ٱلۡجَٰهِلُونَ ٦٤

( ای پیغمبره! هغو ناپوهانو او جاهلانو ته چې تاته د شرک او بت پرستۍ دعوت درکوی) ووایه: آیا تاسو ماته امر کوئ چې( د کایناتو د خالق، واحد او مقتدر ذات) الله تعالی په ځای( ستاسو په لاس جوړ شوی) بتان په ربوبیت ونیسم؟

وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٦٥

( ای پیغمبره!) تا او ستا نه وړاندې ټولو پیغمبرانو ته وحې شوې چې که( فرضاً) مشرک شی په ټولو( نیکو اعمالو) به مو د بطلان کرښه راکښل شی او په زیان کارانو کې به وشمیرل شی.

بَلِ ٱللَّهَ فَٱعۡبُدۡ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ٦٦

بلکه یوازې او یوازې د الله تعالی عبادت وکړه او( په نعمتونو یې) شکر کوونکی واوسه.

وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦ وَٱلۡأَرۡضُ جَمِيعٗا قَبۡضَتُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٦٧

مشرکینو د الله تعالی( د عظمت، علویت، کمال او جلال) حق لکه څنګه چې لازمه ده نه دی پیژندلی، (د الله تعالی د عظمت شان خو دا دی) چې د قیامت په ورځ به ځمکه پخپل موټی کې راونیسی او آسمانونه به هم پخپل ښی لاس کې راونغاړی، او اعلان به وکړی: «زه یم حقیقی پادشاه. چیرته دی د ځمکې پادشاهان»؟ ډیر پاک او د لوړې مرتبې څښتن دی الله تعالی له ټولو نامناسبو اوصافو څخه چې مشرکان یې ورته منسوبوی.

وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُۖ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخۡرَىٰ فَإِذَا هُمۡ قِيَامٞ يَنظُرُونَ ٦٨

او چه( لومړۍ) شپېلۍ ووهل شي، د آسمانونو او ځمکې ټول مخلوقات به مړه پريوزي، بې له هغو چې الله تعالى يې وغواړي( لکه جبرئيل، ميکائيل، اسرافيل او نور). بيا به( دويمه) شپېلۍ ووهل شي چې ورسره به ټول مخلوقات بيرته ودرېږي او( هک پک او وارخطا به) هره خوا ګوري( چې څه حال به ورباندې راځي)؟

وَأَشۡرَقَتِ ٱلۡأَرۡضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ ٱلۡكِتَٰبُ وَجِاْيٓءَ بِٱلنَّبِيِّـۧنَ
وَٱلشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡحَقِّ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ٦٩

او ځمکه به د خپل رب په نور روښانه اومنوره شي، د( اعمالو) کتاب به پرانستل شي، پيغمبران او ګواهان به راوغوښتل شي او د( خلکو) ترمنځ به د عدالت او انصاف په رڼا کې فيصله وشي او له هيچا سره به ظلم او زياتی ونشي.

وَوُفِّيَتۡ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا عَمِلَتۡ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِمَا يَفۡعَلُونَ ٧٠

هر چا ته به د هغه د عمل( مکافات او مجازات) ورکړی شي، او الله تعالى د هغوی په ټولو کړنو ډير ښه پوهيږی.

وَسِيقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا فُتِحَتۡ
أَبۡوَٰبُهَا وَقَالَ لَهُمۡ خَزَنَتُهَآ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ رُسُلٞ مِّنكُمۡ يَتۡلُونَ عَلَيۡكُمۡ
ءَايَٰتِ رَبِّكُمۡ وَيُنذِرُونَكُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هَٰذَاۚ قَالُواْ بَلَىٰ وَلَٰكِنۡ
حَقَّتۡ كَلِمَةُ ٱلۡعَذَابِ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ٧١

کافران به ډلې ډلې دوزخ ته راکښل کيږی او له رسيدو سره سم به يې ورته دروازې خلاصی شي او څارونکی به ورته ووايي: آيا تاسو ته ستاسو له خپل( انسانی) جنس نه پيغمبران نه وو راغلی چې ستاسو د رب آيتونه به يې درته لوستل او د دې ننني ورځې د حشر خبرداری به يې درکاوه؟ ( کافران) به ووايي: هو- پيغمبران راغلی ول خو په کافرانو باندی د عذاب فيصله( لا پخوا په تقدير کې) شوې وه.

قِيلَ ٱدۡخُلُوٓاْ أَبۡوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ فَبِئۡسَ مَثۡوَى ٱلۡمُتَكَبِّرِينَ ﴿٧٢﴾

ورته به وويل شی چې د دوزخ په دروازو ننوزئ او تل تر تله پکې واړوئ، څومره بد هستوګنځی دی د تکبر کوونکو لپاره.

وَسِيقَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ إِلَى ٱلۡجَنَّةِ زُمَرًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا وَفُتِحَتۡ أَبۡوَٰبُهَا وَقَالَ لَهُمۡ خَزَنَتُهَا سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡ طِبۡتُمۡ فَٱدۡخُلُوهَا خَٰلِدِينَ ﴿٧٣﴾

او( بل خوا به) پرهیزګاران ډلې ډلې جنت ته بدرګه کیږی او له رسیدو سره سم به ورته د جنت دروازې خلاصیږی، د هرکلی لپاره به ورته ویل کیږی: سلام دې وی په تاسو، څومره نیکمرغه یاست، ننوزئ( د نعمتونو ډک) جنت ته د دایمی او تلپاتې اوسیدونکو په حیث.

وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي صَدَقَنَا وَعۡدَهُۥ وَأَوۡرَثَنَا ٱلۡأَرۡضَ نَتَبَوَّأُ مِنَ ٱلۡجَنَّةِ حَيۡثُ نَشَآءُۖ فَنِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ﴿٧٤﴾

او و به وایی( جنتیان): ثنا او ستاینه ده د الله تعالی ذات ته چې خپله وعده یې زمونږ سره پوره کړه او د ( جنت) ځمکه یې مونږ ته په میراث راکړه، هر چیرې چې غواړو پکې به واوسو. څومره نیک اجر او پاداش دی د نیک عمل کوونکو لپاره.

وَتَرَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ حَآفِّينَ مِنۡ حَوۡلِ ٱلۡعَرۡشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡۖ وَقُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡحَقِّ وَقِيلَ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٧٥﴾

او ( ای پیغمبره) ته به ووینې چې پرښتې د عرش چارچاپیره حلقه تړلې ولاړې دی، د خپل رب ثنا او تسبیح وایی، او د خلکو ترمنځ به د حق او انصاف فیصله وشی( او د قیامت د ټولو چارو په پای کې به له هر لوری) د « الحمد لله رب العالمین» (د پرتمین شعار انګازې) راپورته وی.

« تمت سورة الزمر بفضل الله ورحمته».

===================